

Pukhto.Net پښتو

شعري مجموعه
وړې سلګۍ
امجد حسان خلجي



ژونده ستا سلګۍ سلګۍ کیسه راته لا یاده ده...

لویه وي او که وړه، سلګۍ سلګۍ وي، پخپل شا د ډېر قیامتونه لري، د ډېر رنګونه او جهانونه لري. د انساني رویو قیامتونه، د دنیاوي فریبونو رنګونه او د بې وسۍ، زور و ظلم جهانونه. چېرته چې اوسېدل ګران خو وي، ولې امکان يې د ورکېدو نه د لا راپیدا کېدو زیات وي، داسې امکان چې د ماضي د مشاهداتو نه د ډېر څه واخلي. د حال په زاره چاوډې کیفیاتو کې ساه ساه ژوند وکړي او د راتلونکي لپاره د رڼا مناری جګې کړي، ځکه نو سلګۍ وړه وي که لویه. سپکه نه دي ګڼل پکار.

همدغه سلګۍ وه چې د بابا په سترګو کې اوښکه شوه. نو دا ویر کاینات يې آباد کړو او تر دې دمه يې انساني زړونه او جذبې کلکې نیولي ودان يې ساتي. او بیا دا هم یو معجزه ده، چې په دغه آباده دنیا کې د فکر خاوندانو د خپلو سلګو د ابرو او حدونو بهر د تولنې بندېدونکي او تښتونکي ساه ګانې سانده سانده او تپه تپه کړې او پخپل تخلیقي زور او هنر يې پرې داسې راته تصویرونه جوړ کړل، چې د تاریخ د هر زورور پراوه يې په راتېرولو پخپله ساه ساه کړل. خو ولې هنري او تخلیقي فن يې تر عصري دُرشله په د ډېر کمال رارسولي او دا دی د هغه ماتېدونکو ساه ګانو ساندې تن د مینې او امن سندرې دي او انځورونه يې پخپلو رنګونو کې د راوړي واړه سلګو حقیقي ماناوې رابرسېره کوي. څه چې د واړه سلګو د قدر او قیمت په شا د هر ظلم او قیامت وضاحت او څرګندونه کوي

په تو له پښتنه مینه

اسرار اتل

(نور په کتاب کې دننه ولولئ)

د وروکي حسان، وړې سلګۍ

امجد حسان خلجي صیب اګرچې د ځلمیتوب نه هم دوه درې کاله کشر دے، خو د سوچ وریښته يې د ډېر مخکښې سپین شوي دي. هغه تندېر کړتې په لاس د هر دردسره آشنا کوي او ډېر تېره تېره چې کله هم حسان صیب څه نوے تخلیق کړے. اګرچې فني لحاظ سره کمزورے به هم وي، خو زهٔ به ورته ګوته په خلهٔ پاتې کښېږم. حسان چې د ژوند پهٔ کومه حصه کښې دے، لکه غوټۍ دے او هغه هم نیمګړې غوټۍ، خو ادراک يې د انتها دے. ازغي هم پېژني او د سپرلي پر مزاج هم پوهه دے. اصلي یار هم پېژني او د سپرلي هم، ځکه خو وایي:

په سپرلي کښې ترېنه هېر شولې حسانه
خبر دے رابه شي یو ځلې پرې خزان بیا

چې د شپارس کلیز ماشوم د شعر په انتخاب کښې هم دومره پېدا شي، نو داسې ښکاري چې د کمال ښاپیرۍ به يې پر فکر مئینه وي. خو چې کله بیا هم دغه کم سنه سوچ د شعر پر میدان کښې د سوز واګې ترلاسه کړي، نو صرف دومره به ووایم چې دا اعزاز صرف او صرف پښتو ژبې ته حاصل دے، چې امجد حسان خلجي غوندې شاعران يې زېږولي دي.

په مینه او درنښت
عادل شاه خلجي
ادب دوست لندن

ښاغلی امجد حسان خلجي او د هغهٔ 'وړې سلګۍ'

ښاغلی امجد حسان خلجي د ځوانۍ غورځنګ لري، د ځوانۍ مینې رنګ لري او په پښتو تنګ لري. د هغهٔ ادبي زیار د ایثار نه کم نه دے، ولې چې هغهٔ په ځوانۍ کښې سلګۍ سلګۍ دے، خو حوصله نه بائیلي، جذبې يې تاندې دي او کهٔ په خلهٔ يې ساندې دي، خو ګامونه يې د غم د هر پړاو نه وړاندې دي. هغهٔ چې څهٔ لیکلي، که ښکلي يې ستائیلي، که د خان جانان ستمونه او ظلمونه يې غندلي، که خپل دردونه يې ژړلي، هر څهٔ پهٔ خپل خپل ځائے خوند رنګ لري. د شعر د لیکلو صلاحیت الله تعالی ورکړے دے او ددې صلاحیت په کار راوستو دپاره هلې ځلې کوي او د خپلې ګرمې وینې پهٔ جوش او خپل حساس زړهٔ پهٔ زور يې کوي.

د ښاغلي حسان ډېر شعرونه پهٔ زړهٔ پورې خواږهٔ او دراندهٔ دي، خو د ځنې شعرونو نه يې د شرابو او میکدې دومره بوئي راځي، لکه چې د یو شرابي شاعر کلام يې پهٔ زور زهر لوستے وي او د هغې نه يې تاثر اخیستے وي، ګنې پخپله داسې نهٔ دے.

مونږه وشیلې شو چې ښاغلے حسان بهٔ د راتلونکي دور د ادب د آسمان یو ځلنده ستورے وي، خو که لږ ډېر ادبي محفلونو، تنقیدي غونډو او زده کړې له وخت ورکړي.

وما علینا الاالبلاغ
حسین احمد صادق

وړې سلګۍ

Pukhto.Net
پښتو

امجد حسّان خلجی

ټول حقوق بحق مصنف محفوظ دي

کتاب نوم:	وړې سلګۍ
مصنف:	امجد حسّان خلجی
درک:	خلجی ټولنه مردان
بریښنا لیک:	(0333-9136036)
کمپوزنګ:	راضی ګل:(0315-9834199)
ډیزائن:	زبیح الله شفاق:(0321-9195220)
دچاپ ځائے:	اعراف پرنټرز محله جنګی پیښور
	091-2580006 / 2580268

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

ترجمه

شروع کوم د خدائے پاک په نوم چې بخښونکے او مهربانه دے

Specil Thanx

Shah Khalid Nadan	Adnan Khilji
Zubair Shah Khilji	Arshid Ali Khilji
Adil Shah Khilji	Zahid Hussain khilji
Irfan Ali Rustam	Umar Zada
Sir Jamal Khan	Jawad Ali
Inam Ahmad	Muhsin Ali
Aziz Ahmad	waqas Ahmad
M. Tariq Shah Khilji	Nigar Khilji
Abdullah Khilji	Ibrar Hussain Fitrat
Sajjad Ali	Ms,R,S City
Manzoor Ahmad	Abbas Ali
Faisal Khan	Bilal Ali Shah
M.ILyas Khan	

Very Very Thanx

خلجی تهولنه

www.pukhto.net

......﴿دزړه نه مننه﴾......

د څۀ وئیلو نه مخکښې زما فکر په دې کښې انښتے دے چې زۀ ستاسو شکر څنګه ادا کړم؟

خو بس دا به اوائیم چې حقیقت کښې دوې دپښتو ادب خواخوږي دې ولې چې دوې ماله هم دخپلو قیمتی لمحاتونه قیمتی لمحې راکړې او زما کمزورے او وړوکے فکر ئې په خپل درُون فکررنګ کړو او ما ترې په لږ وخت کښې ډیر څه زده کړل۔

(ډاکټر همایون هما صاحب ،حسین احمد صادق صاحب ،محمد اسرار اتل صاحب،مظهرجاوید صاحب)

خوزه به بس صرف دومره اوائیم چې الله تعالیٰ دې ددوئ حضراتو په عمر اوعمل کښې سره زمونږ برکت واچوې۔

اوالله دې ددوې دَذهن سطحه نوره هم دادب دپاره وسیع کړې امین۔

امجد حسآن خلجی

......﴿ تړون﴾......

(دخپل مور اوپلار په نوم)

ولې چې دوی زما دپښتو ژبې استادان دی ،چاچې په "للوللو" اوده کړے یم اود پښتو په ټپه ئې پاځولے یم اوچاچې په" زارزار "قلار کړے یم اوپه "تا تا" ئې خنداولے یم۔

......﴿داستادانو په نوم﴾......

د ابې دادا دغیرې نه پس د دوې غیرې له تلے یم ، دمور غیږ کښې مې پښتو زده کړه او د دوې آغوش کښې مې دپښتو لیکل ،اوپه تیزطوفان کښې ئې بله ډیوه راوړم لاتردې منزله چې اوس دادے تاسو ته مخ یم۔

......﴿دملګرو په نوم﴾......

کو زه دا اوائیم چې دوست د هرپرهر مرهم دے نو دروغ به وی بهترین دوست دَژوند سرمایه ده زما په خیال بغیر د

www.pukhto.net

دوست دنیا ورانه جنت نیمګړے۔ ولې چې د دوستئ په ډاډ زۀ تردې حده راغلم۔

......﴿دپښتونخوا په نوم﴾......

چې دجنت زمکه یادیږی هرمازیګرئې ګودرونه میرلسونه کوې هریو چینارئې دپښتوسندری وائې خندیږی هم ګډیږی هم کله ټپه کله غزل شی۔دچینارو،چینو ورشوګانو او دَ پښتونخوا دګلالو ماشومانو،مشرانو اومزدورانو په نوم

......﴿دخلجی ټولنئ په نوم﴾......

دچا د ډاډګیرنې آوازونه چې زما په غو ږو کښې اوړې روړې اوزۀ ئې تردې جوګه کړمه۔ اوزما حوصلې ئې دومره مضبوطې کړے دی ۔

دټولو مینه والو په نوم
د شاعرونو او ادیبانو په نوم
د پښتونخوا دزلمو په نوم

......﴿ډالی﴾......

زۀ داخپلې وړې سلګی چې حقیقت کښې زما دتصور دفکر دارمان دامید وړی سلګی دې دازه یو خپل خو ږ رور اوملګری ،

عادل شاه خلجی صاحب

ته ډالی

کوم

چاچې زما په خاورو لوغړنې حوصلی دآسمان په رنګ رنګ کړې ۔ چاچې یوائې زما سره دشعر اوشاعری په اړخ کښې نه بلکه د ژوند په هراړخ کښې د د حوصلی ډاډګیرنې ماسره اوږه په اوږه روانې دې۔

امجد حسآن خلجی

www.pukhto.net

......﴿د حسان وړې سلګۍ﴾......

زۀ حسان خلجی پیژنم په وړومبۍ ملاقات کښې دخپل کتاب وړې سلګۍ دنمونه مواد راکړل او راته ئې وئیل چې زۀ دلسم جماعت طالب علم یم ۔ داشعرونه مې لیکۍ دې او اوس ئې چاپ کول غواړم ما په رموز رموز کښې پوهه کړو چې ادبی ذوق دخدائے پاک عطیه ده اوپه یوه ژبه کښې شاعر کیدل دهغه اضافی مهربانی ده خوپه پښتو کښې دشعر نه زیات دنثر ضرورت دې۔ دشاعرۍ شوق دې په قابو کښې ساته وړومبې دښه تسلی ادا کړه او بیائې خپلې تجربے اومشاهدے په شعر کښې بیانولې ۔پوهان وائی چې ځوانان د شوق منې نه وی هغه تسلیم کړې وه چې وړې سلګۍ چاپ کوم نودا ئې د لوستونکو

په وړاندے وړومبۍ شاعری مجموعه ده۔ له هلک دے دَوخت سره به ئی شعر کښې پوخ والے هم پیداشی۔اوخیالات به ئې نور هم درانه شی۔ په دے خبره خوشحاله یم چی شعر ئې په وزن کښې دے۔او نور شعری لوازمات ئې هم پوره دی۔

ډاکټر همایون هماؔ صاحب

20/9/2012

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

﴿ښاغلے امجد حسان خلجي اوَدهغهٔ ورې سلګۍ﴾

ښاغلے امجد حسان خلجي دځوانۍ غوځنګ لری دځوانې مینې رنګ لری اوپه پښتو ننګ لری دهغه ادبی زیاردَایشارنه کم نه دے ـ ولې چې هغه په ځوانۍ کښې سلګۍ سلګۍ ږدے ـ خوحوصله نه بائیلی ـ جذبې یې تاندې دی اوکهٔ په خله یې ساندې دی ـ خوګامونه یې دَغم دهر پړاؤنه وړاندې دی ـ هغه چې څه لیکلې ـ که ښکلی یې ستائیلی ـ که دَخان یاجانان ستمونه اوظلمونه یې غندلی ـ که خپل دردونه یې ژړلی ـ هرڅهٔ په خپل خپل ځائے خوندرنګ لری ـ

دشعر دلیکلو صلاحیت الله تعالیٰ ورکړے دے ـ اوددې صلاحیت په کار راوستو دپاره هلې ځلې کوی ـ اودَخپلې ګرمې وینی په جوش اوخپل حساس زړهٔ په زور یې کوی ـ زما خویې تخلص ډیرخوښ شو ځکه چی دادَ

هغه عظیم صحابی شاعر حضرت حسانؓ بن ثابت سره نسبت لری ـ چاته چې رسول اللهﷺ دعاکړی وه ـ او په مسجد نبوی کښې به یې په خپل ممبر کښینوهٔ بیابه یې ورته وفرمائیل چې دکافرانو شاعرانو دشعرونو ځواب ورکړه جبرائیل امین علیه السلام به ستا ملګرتیا کوی ـ

دَښاغلی حسّان ډیر شعرونه په زړهٔ پوری خوا ږه او درانه دی خودځنې شعرونو نه یې دشرابو اومیکدې دومره بوئی راځی لکه چې دَیو شرابی شاعرکلام ئې په زورزیر لوستے وی اودهغې نه ئې تاثر اخستے وی ـ ګنی پخپله داسی نه دی ـ

دښاغلی حسّان په شعرونو کښې ځنی فنی اوتخیلاتی خامی اوکمزوری هم په نظر راځی ـ خو هغه لاځوان د"ورې سلګۍ" یې دشعرونو ورومبۍ ټولګه ده دَشعور اواحساس په دور دَهغهٔ ځنې شعرونه دهغهٔ نه مشران ښکاری ـ اوپه دې بنیاد مونږ وئیلے شو ـ چې ښاغلے حسان به د راتلونکې دور دَادب دآسمان یوځلنده

www.pukhto.net

ستورے وی۔ خو که لږ ډیر ادبی محفلونو ، تنقیدی غونډو اوزدکړی له وخت وکړی۔

وما علینا الاالبلاغ

حسین احمد صادقؔ

۱۶اکتوبر ۲۰۱۲ء

﴿دپښتو ادب یو ځلنده ستورے﴾

دَخیبر پختونخواه په دې آباده سیمه کښې ډیر نوی نوی شاعرانو اولیکوال دَخپلې مورنۍ ژبې دَ بقا اودَترقۍ دَپاره خپل قلم اوقدم پورته کړے دے۔ اودَپښتو په ادب کښې ئې ډیر لوړ اوژور مقام حاصل کړے دے۔ اوهم دغه رنګ دمردان سیمې سره تعلق لرونکے یونوے اوخائسته ځوان شاعر " امجد حسّان خلجی ډیر په کم عمر کښې دا لوئ ګام پورته کړے دے۔ اودَ"وړې سلګۍ "په نوم ئې دَخپل خیالاتو احساساتو اودَجذباتو اظهار دَشاعرۍ په ژبه کښې ډیر په عجیبه انداز اومهارت سره کړے دے ۔ چې دهغې په وئیلو سره هر یوسړے دَشعر په خوند طبیعت موجونه وهی۔

امجد حسان خلجی دَپښتو ژبې ډیر نازک خیال او په عین خیال کښې درد مند شاعر دے۔ اودَ نازک خیالۍ په فن کښې دَځنې نویو استعارو۔تشبیهاتو اودَاصطلاحاتو موؑجد دے۔

www.pukhto.net

ـ څه خو ضرور شته دے حسانه دَمانړام غېږه کښې
سمه سمتې ده ګډېدل دی نن دَجام غېږه کښې
دلته زۀ خپل سورے څادر ګڼم اوزګار له نه یم!
دَبے وسی ارمان به پټ کړم دَناکام غېږه کښې

دَیو شاعر په کلام او خصوصاً دَهغه په غزل کښې دَسوز اوګداز عنصر هم ډیر ضروری دے۔ اودَسوز اوګداز تعلق دَداخلیت سره وی۔ څکه څه وخت چې په جذباتو او احساساتو کښې انتهائی شدّت پیداشی ۔دَهغې بیا دَقلم په ژبه اظهار دې کیفیت ته سوزاوګداز وئیلے شی ۔ اودَامجد حسانؔ خلجی په شاعری کښې دا عنصر تر ډیره حده پورې شامل دے ۔ په صحیح معنو کښې دا چه دَ امجد حسانؔ صیب کلام دَ سوزوګداز ، دَ درډیدلو جذباتو او دَغم انګیزه احساساتو نه ډک دے۔

ـ دغه یادونه چې جانانه څنګه تا ژړوی
باور دې اوشه په خدائی چې داسی ماژړوی

ـ خوب خندامے شوله ورکه ستاله غمه
لکه ساه چې رانه وتی یاره سمه

په کلام کښې جدّت پیداکول فن سره سره یو کمال هم دے ۔ دَجدّت نه مراد دادے چی دَکلام په اوریدو اوریدونکے نوے والے ـ جاذبیت خوند او فرحت محسوس کړی۔ اوهم دغه شان دَ امجد حسان صیب په کلام کښې روایت اوجدّت دواړه او بړه په اوبړه روان دی ۔ او په هر شعر کښې ځان له یو نوے والے ـ جاذبیت اوخوند موجود دے۔

ـ اسویلو مې دَګوګل نه دجانان خبرې اوکړې
ملګرو مودو پس مے دې خفګان خبرې اوکړې

ـ نور به دې کوڅې ته حسّان نۀ راځی
هسې مے دې خلی ته ورله څۀ راځی

ـ دَسپینو خورو صفت مُه کړه مُلا جانا بیابیا
داسې جنت دې په بلاشی دَاشنا نه بغیر

www.pukhto.net

په هر دور کښې دَ عقل اودَپو هې خاوندانو دَ زمانې دَنا کړدو نه ګيله کړے ده. اولګيادی کوی ئ هم . دَپښتو ژبې حساس شاعران هم دَوخت نه ګيله من پاتې شوی دی. امجد حسانؔ صاحب په کلام کښې دګيلو اصل وجه هم دا ده. چې وختونه دَنااهلو په سرتاج کيږدی. اواهل په خاورو لوغړوی. دَ نااهلو په غاړو کښې دَ سرو اميلونه زانګی . او اهل په هرځائې کښې دَذلت اودَ هوارۍ ژوند تيروی. دَامجد حسانؔ صيب په آزاد نظمونو اوپه بعضو شعرونو کښې داسې مضامين صفاښکاری.

بهرحال مونږ به داووايو ، چې دامجد حسانؔ صيب شاعرۍ په حقيقی معنو کښې دَپښتو ادب دَ سباوؤن دَنمر روښانه ځړيکه ده. اويوه ښکلې اضافه ده. دَيو ورور اويو خوږ ملګری حيثيت سره دَزړۀ دَکومې نه دوی دَپاره زما دا دُعا ده. چې الله تعالیٰ دې دوی خپل فضل اورحم سره په دنيا او آخرت کښې په لويو مرتبو اوچت کړی.(آمين)

(مظهر جاويد)

د وړوکی حسانؔ ورې سلګۍ

ده حسانؔ دۀ شعرونو په حقله ليک عين داصولو مطابق دې او دافن متقاضی هم دے. خوزۀ به دۀ هغه پرشاعری دۀ هغه ده ستونزمن تکل اودهغه ده شخصيت هغه پانړی برسيره کړلو له ترجيح ورکول غوره کنړم .ولی چې حسانؔ پرعمردې ابتدأ کښې دۀ انتها ادراک اوشعرې فهم دَخپل قلم سره هم نوا کړی دی . زۀ ده ګنړم چې ده شعر پرزړۀ کښې سړيکی نه وې. اوهر احساس ئې سلګونه وی نيولے . نو هغه ده شعر تمسخر کيدے شی نه چې يوصينف ولی چی دالوبه په محنت نه راځې اوکه ثوک ئې راولې اويا چا حاصل کړې هم وې نو ده هغه شاعر اود فطرتی شاعر په شاعری کښې نوزما پر نزد کښې پيدائشی شاعر په ټکواو شعر غيږی ته راوړی شوی شاعری کښې ده بلها تضاد وی.

نوځکه چې حسانؔ کله هم څه وئيلی دی نودۀ سوزنازک تارونه ئې چيړلې دې. يوڅو نمونی چې

www.pukhto.net

زمازړهٔ ته هم پروتې دې۔

۔ تـا خـوبـه وئيـل چـې مينـه ټوقی دې حسـانـهٓ
خونن دې په دې سترګو کښې دا اوښکې ولې وينمه

۔ چې مې سپک ګڼـړی دَخاورو دَخزلو
ربه ماورله په سترګو کښې لږ حس کړې

۔ ماخو دَ جوش اودَ ځوانۍ خبرې نه وې کړې
ساقی جامونه کړل التـه چې ميخانه بنده ده

دَادب مشرانو په نزد دهٔ يو شاعر دپاره تخلص يواهم عنصر دے۔ په دې منطق پر باندې د امجد حسانٓ خلجی صيب ده سوچ پنجی ده دولسو کالو په عمر ښخی شوې وې ۔ اوماته ئې وئيل چې ما ځان دپاره تخلص خوښ کړے دے۔ زما په پوښتنه باندې څرګنده شوه چې حسان دے۔ دغه نوم ځما هم ډير خوښ شو ۔

ولې چې دهٔ ژوند په هر اړخ زمونږ دپاره الله جل شانه ده کائناتؒ وسعتونو نه هم سيوه فراخه هستيانی يعنی صحابه کرام پيدا کړې دې۔

امجد حسان خلجی تخلص "حسان" دحسان ابن ثابت په تاثر کښې هغه خوښ کړے دے ۔ په آخره کښې ديو مشر رور دهغه نه هم زيات ديو دوست په حيثيت دادعا به اوکړم چې۔

اے دلوح اوقلم مالکه !چې دامجد حسان خلجی قلم ده هغه او دهغه په شان دپښتوادب مينانو دپاره يو رهنما اوګرځوی۔

اوخدايه طاقت ورکړی چې مونږ سره هم دغه شان دليک سلسله شريکوی۔

(امين ثمه امين)

عادل شاه خلجی

(ادب دوست لندن)

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

......﴿يو څود زړه خبرې﴾......

هرکله چې په يوقوم کښې انقلاب راغلے ياخو دَتحرير په وجه دے اويادتقرير۔

اوهرکله چې تحرير ميدان تا سرے کوزشی اوتاريخ پاڼړه په پاڼړه اوګورى نوشاعرى دپوهانو په وائنه اوپه درُون نظر کښې دتحريرونو مُور ګڼړلے شى ۔ چونکه زۀ خو په دغه خوشفهمئ کښې نه يم مبتلااونه دا دعوا کووم خودومره ضرور وئيل غواړم پوره په بخښنانه چې کله هم د انسان زړۀ راډک شوے زماپۀ خيال درې لارې ئې اختيار کړې دې اول لاره دَزړۀ دويم دَمايوسى دريمه دشاعرى نوماهم په دغه لارو کښې د شاعرى لاريعنى د وړوسلګو لاره اختيار کړى دا اودخپلو سُوو اسويلو ترجمانى مې دشاعرى په انداز کښې کړى ده۔ اودکومودرنو له وجې چې ما دا لاره اختيار کړې نو هغه د پښتنو اتفاق او رورولى۔ هم دې خبرو زه ډيرحساس کړے يم چې آخرولې؟

زمونږ نه خپله پښتوپردې کيږى۔

اوآخرولې؟ هغه قوم چې يوه نمونه وه درس جهان

ته په رورولى اواتفاق کښې اوپه مخ دَ زمکه يو مثال وو۔نو آخرولى ؟ هغه رورولى او اتفاق داسى ورځ تر ورځه پيکه کيږى ۔ هم د دې درنولا وجى ما دتحريرلار اختيار کړه۔ اودپښتون خوشحالئ او رورولى او اتفاق مې ځان ته يُون جوړ کړو۔

خپل دې منزل کښې يعنى وړوسلګو کښې چې ماته خومره ډاډګيرنئ او خوصلى راکړے شوى دومره ستغى سپورى هم ددې فن ناخبره پوهانو خوتردې زۀ جوړ کړے ووم چې زۀ خپل واړه قدمونه روسته کړم اودې منزل ته شا کړم۔ په دې موقعه ماته دعادل شاه خلجى يو شعر راياد شو۔

ے زما دَ، فن کفن دفن ئې وکړو
نقاد چې وخاندل وئيل داخنګ ليک دے

خوقريان ديو خومشرانو نه شم۔ چاچې څما حوصلى نورې هم مضبوطى کړې اوزما پښنى ئې په دغه آواره ډاګه

www.pukhto.net

نورې هم کلکې کړلې. ګویا دوې زمانه ډېر مخکښې
دغه یُون کوو او روان وو. اوزۀ ئې دځان سره دخپلو درنو
سُورو دلاندې ملګرے کړم اودغه منزل ته ئې روان کړم.
اوپه دغه اغیزه لار ئې دازغونه بچ کړم اودګلونو
خوشبوئې ته ئې مخامخ کړم.

بايد دلته تشرکيره دهغوې وکړم زه اول دَ ډاکټر
همایون هما صاحب سره ملاو شوم چې د پښتودآدب
ځانګه نه بلکه وُنه ده ما چې ځومره د دوی نوم اوریدلے وو
دومره زیات مې ورسره دلیدو ارمان وو. خوماته ئې زیارت
دخپلو وړوسلګو له برکته وشو. دوې زما حوصلی په
حقیقت کښې حوصلی کړی اودوې زما فکرونه حقیقت
کښې فکرونه کړل.

اوبیا زۀ محمد اسرارتل صاحب له ورغلم . دهغوی
باره کښې به صرف دومره اوائیم چې ځنګ دهغوی په

شعراو شاعری کښې خو ږوالے دے. نوداخبره پوره په
دعوا کوم چې اتل صاحب په حقیقت کښې ددې نه بلها
درجې خوږ دے.

بایددلته ستائنه د حسین احمد صادق صاحب پکار ده
چې د مردان دخلقو دسرګل دے. اللّٰه تعالیٰ ورله دشعر
اوشاعری په میدان کښې ډیره پوهه ورکړی ده. دهر سړی
دشاعری تنده پری ماتیږی دغزل رازدنظم تار ډیر ښه
پیژنی.

که مظهرجاوید صاحب دلته هیرووم نودابه زه زیاتے کوم
ولې چې مظهرجاوید صاحب خود اردو ادب سره تعلق لری
او د دریو کتابونوخاوند هم دے خوچې ماسره ئې په دې
وړوسلګو کښې کومې هلې ځلې کړې دې نو هغه
دهیریدونه دې.

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

اوپه تیره تیره عادل شاه خلجی صاحب چې دښائسته ځوانی مالک اوپه شاعری کښې دمهارت اوپه ادب میئن دستائنی وړدے ۔زما ورسره دوینی رشته تهیک ده د رورولی دا خومانه ئې دوستی رورولې هیره کړی ده ۔دانن چې تاسوته مخ یم دامحنت "عادل شاه خلجی" صاحب دے چې نن ئې رنګ راوړو۔

زۀ ددې تولو حضراتو ډیر مشکوریم ۔زما دالله تعالیٰ نه دادعا ده چې الله تعالیٰ دی ددوې حضراتوپه عمر اوعمل کښې برکت واچوی ۔ الله تعالیٰ دوې دآدب دپاره ژوندی ساتې۔

امین ثمه امین

امجد حسانؔ خلجی

درک (مردان خلجی تولنه 0333-9136036)

★

ډیریم پروتے دَ نظره قدردان مالکه
دامې ګناه دا که عذاب که امتحان مالکه

ماچې ګنړې دَزمکې سَر باندې خیرنه خاوره
لږ خوآواز وکړه دَ هغی لوئې اسمان مالکه

جوش دَځوانئ دے غورځنګونه دې ډوبیږم پکښې
بل خواه رُخسار باندې دَ اوښکودے باران مالکه

زۀ به دچا په لاس کښې اوګورم تنړئ دَقمیص
خدایه چې وې ریخی دَهغه چاګریوان مالکه

نوردَ دُنیا دډډې غم تا زۀ دَتهنړې نه یم
یوپه یو مادے لمبولے خپل ارمان مالکه

www.pukhto.net

نورئې بس ورکه دخپل ذات په نندارو کښې
ستا دَ دُنیا دغمه سترې دے حسان مالکه

★★

یو شعر:۔

بے پناه چې ئې په عشق کښې دردمند پُروت یم
راښکاره به شی په ورځ دۀ قیامت مخ

★★

★

چې نمر ډوب شی دَ ځکنړی ماښام تیارۀ خوره شی
نو په مادَ ساقی جان دَ مېو جام تیارۀ خوره شی

پېر زوئنه دَ جانان دا کوخودی مې ګورې ربه
چې نزدې شم کله یار ته نو مُدام تیارۀ خوره شی

بیا بوډا هم پکښې ځوان شی دَ مستۍ خبرې وکړی
ساقی جانه ستا محفل کښې چې دَجام تیارۀ خوره شی

څوک خوشحاله وی تیارې ته چې پکښې سپین جانان به مومم
په چا سمه دَ ماښامه د ناکام تیارۀ خوره شی

واړه غمه دې مدهوش کړۀ بیاترې زر وځه حسانه
میکده دا بے خودی ده اوس به عام تیارۀ خوره شی

★★

www.pukhto.net

★

ښفق چې راغے را پـه سَرشوۀ دَ نظر جهګړه
غربت دې ورک شې راسره وکړه خپل دلبر جهګړه

پـه زُور ئې نشو اخستے کفن پـه غاړه ګرزوم
جانان ئې واخست راسره ئې وکړله پـه زر جهګړه

بے وسه نـه یم خو حالات بے وسه کړے یمه
داخو جانان دے مونږه کوو دغرۀ پـه سر جهګړه

وخت چې بے رُخه شونو ډیرو خو بۀ ومخ واړوو
قسمت کوی راسره دغسې اکثر جهګړه

هجرانه لاس مې ډکریوانه پـه راستی اوباځه
راسره کړې بـه صبا مړیم پـه بستر جهګړه

شم وار خطا اوتراوتر دَ ځانه ورک شمه زۀ
قسمته بس کړه نـکړې څوک دومره زر زر جهګړه

راځی راتهول شی پښتنو پـه دې نقطه دَمینې
مرغی ګزارشی چې یې وی دَ پـهرو پَر جهګړه

حسانـه چُپ شه دادُنیا دۀ دلته زر چلیږی
دَجفاکار سره مې پاتې دَمحشر جهګړه

★★

★

په صبا ماښام دې اخلم
په خپل ژوند تمام دې اخلم

صبر اُوکه ځان حرخومه
دا د ميو جام دې اخلم

ته که هرڅه ئې دلبره
خاص دې اخلم عام دې اخلم

جادو ګره ځان پرې وژنم
وَل دَ زلفو دام دې اخلم

بس چې زۀ يم ځما خيال وى
سوچ دې اخلم پام دې اخلم

يوۀ ورځ نه شوه غزله
زۀ حسان مُدام دې اخلم

★★

يو شعر:ـ

چې په خيال باندې مې وريځې دۀ غم راغلې
لا دۀ سترګو بارانونه مې راښکې شو

★★

www.pukhto.net

★

دغه یادونه چې جانانه څنګه تا ژړوی
باور دې اوشه په خدائې چې داسې ماژړوی

په یار پسې داسې لیوال شو لونن هغه زلمے
دۀ چم واړۀ ئې ورته یادئ لیونے بیاژړوی

مائې د مینې خندا غوښتې وه مُنکرېږی نۀ یم
دانن چې خاندی ماته نۀ ماپه خنداژړوی

نوری ګیلې به زۀ دَ چانه اوآخرولې اوکړم
بس دابه وایم چې خفګان مې په ژړا ژړاوی

راتۀ ئې وئیل حسانؔه بس کړه حیثیت دې څه دے
داستا رښتیامې نن جانانه په رښتیا ژړاوی

★★

★

څنګ ئې په یو چغه په خفګان دَ کلی اوویستم
خپل جانان مې څومره په ارمان دَ کلی اوویستم

سُور جهنم خوښ مې دے څوتاؤ دې بے وسئ نه
زۀ ځیرې ګریوان مې خپل جانان دکلی اوویستم

خپل عکس رانه مخ واړوؤ مخ چې آئینې ته شوم
نن خومې خپل ځان هم دخپل ځان دَکلی اوویستم

څوک له کلی چرته څوک وباسی چې پرې تورنه وی
زۀ خو په نیستئ خلقو حسانؔ دَکلی اوویستم

★★

www.pukhto.net

★

هريو لفظ هريو پيوند هره کړئ
ستا په نوم مې ده ليکلې جفاکار

د دې يو احسان درانه دې په ما بار دی
چې ستا غم دَ نورو غمو کړم اوزګار

يا پټې يا به کټې ووزهٔ خو دهقان ووم
خو ستا غم کړمه جانانه ډير هوښيار

دَمنصور غوندې په مرګ باندې خوشحال يم
په دار خيژم خو دزلفو په يو تار

په کور کلي دَحسآن پُښتنه وکړه
معلوميږی هر انسان په خپل کِردار

★★

★

لږ غوندې مې پټ دهٔ تورو زلفو په ماښام کړه
بيا ما دَخپلې مينې دَمستئ دَميو جام کړه

مستۍ او بی خودۍ کښې مې لهٔ ځانه بې خبر کړه
زما دَ خولې کلام ساقی دَخپلې خولې کلام کړه

په سترګو مې اودهٔ که او په شونډو مې مدهوش کړه
داسې مې بې هوش کړه بې خودۍ ته مې انعام کړه

بغاوت ستا دَ قدرت نه دَ ميخان خبره صحيح ده
ته وړے حورې تکې سپينې يوه حوره خو په بام کړه

خيالونه ليونی او احساسات مې کړه مدهوشه
چې يار ته ورنزدې شمه ماښام کښې مې بدنام کړه

www.pukhto.net

شـراب دې ده سُـرو شونډو وو ورکـړی لیـونـی لـه
هـم دغـه سره شراب ورتـه اوس تهول عمر انعام کـړه

★★

یوشعر:۔

چـې مـې سپک ګـنـړی ده خـاورو دَخَـزلـو
ربّـه مـاورلـه پـه سترګو کښـې لږحَـس کـړې

★★

★

تـهٔ بـه جـانـان مـې هم لیـدلـې پـه آسمـان سپو ږمۍ
ځـکـه ولاړ پـه نیمـه شپـه یم زهٔ حسانؔ سپـوږمـۍ

دبے وسئ نـه بـه اوس څنګـه ستـا وصـال اوکـړمـه
شلیدلے ښکاری پـه رنړا مې ستا ګریوان سپو ږمۍ

زړهٔ خومې غواړی چې بس تاتـه سجده وکړمه
ولې د کلـی مې راغلې دَجانان سپوږمۍ

چې زلیخې څنګه پـه زور بـاندې یوسف خپلوٴه
زه بـه دې نـاوې پـه ژړا کـړم د ارمان سپو ږمۍ

کلے مې څنګه ؤو همه یاران مې څنګ وؤ پکښې
تپوس خو نه کو ؤ چاد لیونۍ غوندې حسانؔ سپوږمۍ

★★

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

ثلوریزه

یـمـه بـوډا یـاره مـنـم خـوځـوان مـې فـکـر
داسـې مـې یـادېږي ځـنـګ چې یادډے راتـه ذکر

ده تسبحـو بـه مُـرو شـونډی دې ښکلو مـه
کـړم کـافـر کـه مسـلـمـان مُـلادې شکـر

★★

★

ماتیر کړے ستادَ پارۀ ټول ژوندون وۀ زوړ قمیص کښې
دا دروغ نه دی جانانه ستا لټون وۀ زوړ قمیص کښې

دا خیبر چې نن خیبر دے دا برکت د عاجزئ دے
پښتنو چې جوړ خیبر کړو دغه یُون وۀ زوړ قیمص کښې

نه مې ښکل کړو نه بدل شو مه په عشق کښې
هم تړون وو زوړ قمیص کښې هم بیلتون وۀ زوړ قمیص کښې

زوړ قیمص شولو حسان ته آخر ولې پیغور
چې زړا به ئی شمله وه زوړ پښتون وو زوړ قمیص کښې

★★

www.pukhto.net

يو شعر:۔

په سپرلي کښې ترينه خېرشولې حسانؔه
په خزان کښې به وريادشې يو ځل بيا

★★

★

ماتوله شپه حلقه دځان سره حساب کړے دے
چې اے دِهقانه څومره کاردې دَنواب کړے دے

دلته خوقيدی يم ربه هلته به ځولۍ وی
خو ږ.ژوندون مې دې ډيرو سوالونو عذاب کړے دے

مونږ.ه دارمان په قتل ټول عمرژړاکړی ده
مونږه ډيرظلم هميشه په خپل شباب کړے دے

جانانه ستا خبرې نورې دنورو نورې
دَبل په خوله دې راته ولې سوال جواب کړے دے

حسانؔه نوربه درته څۀ دخپل زړګۍ وائيمه
په غريبۍ کښې يې دَحسن انتخاب کړے دے

★★

www.pukhto.net

★

ژړا دې بس که دا به شور راولي
دا بې وسي به دې پيغور روالي

هغوی خولاړل شول دَ خاورو لاندې
څوک به زما دَ سترګو تور راولي

زۀ ليونے يم لېوني څه خبر
څوک به زما شعور ترکور راولي

حسؔان ته څه به وائم څه کوې ته
درد چې غزل لره په زور راولي

★★

يو شعر:ـ

ماحود جوش اودَ ځوانۍ خبرې نه وي کړې
ساقې جامونه کړل نسکور چې ميخانه بنده ده

www.pukhto.net

★

زۀ خو هيڅ نه وومه ربّه هر څه تا کړم
لا دَ څو څا څکو اوبو نه دې پيدا کړم

دۀ ويښتـه نه مې نرے نازک بدن وو
څه بُوګه بوګه وَجود دې په دنيا کړم

لا مې سترګې ستا رحمت ته تيتې نه دى
نن به ئې څښمه ميخانه کښې به ګدا کړم

ښه زلمے يم دۀ تنکى وصال خبريم
څکه نه ګورم دَ سترګو دې حياء کړم

په بدل کښې زۀ دَ عشق غلام نه يم
ته خبرِى راته کوه زۀ به دُعا کړم!

★★

★

اسويلو مې دَګوګل نه دَجانان خبرى وکړې
ملګرو مودو پس مې دې خفګان خبرې وکړې

واخله مې بس ربّه نور په داسې زندګۍ څه
جانان چې مخامخ مې ده ګريوان خبرې وکړې

تخليق ئې داسې شوے چې نن بيا هم شوے لوظه
هر څو کومې جانان څه په قرآن خبرې وکړې

اور شو مه لمبه شو مه ماته کچکول ذره شو مه
چې نن ئې راته څنګه په يوشان خبرى اوکړى

ناساپه ئې چې ستا شفقى شونډو تا ورپام شو
پوهيږم نه چې څنګ خفه حسآن خبرې وکړې

★★

Pukhto.Net
پښتو

★

څنګ ئې ګنډلې ځائے په ځائے دَ پے وسې لوپټه
څنګ به مې هیره شي خدائیګو دَ ابۍ لوپټه

غیرۍ کښې نیولے یم بیلدِو باندې څه داسې ژاړم
لکه په سَر چې مې نیولې ده جړۍ لوپټه

ماحو به خپل قمیص ژړلو څه خبرووم له یار
په سُو رلااتاړ کښې ئې په سَروه یو سُورۍ لوپټه

هسې ئے مړ په مړو کتو کړمه یارانو زۀ
نه ئے پړونے شوم دَمخ اونه نرۍ لوپټه

★★

★

څه خو ضرور شته دے حسانه دَمابنام غیرۀ کښې
سمه مستي ده ګډېدل دي نن دَ جام غیرۀ کښې

دلته زۀ خپل سُورے څادر ګنډم اوزګار لا نه یم
دَبے وسۍ ارمان به پټ کړم دَناکام غیرۀ کښې

لا به ترڅو مې له نظره خپل نظر تښتوې
لږ مې راونغاړه په سترګو کښې دَ پام غیرۀ کښې

دومره دې بس ده خاموشي دَ وړو شونډو صنم
هسې نه مړشم اسویلې ته دَ انعام غیرۀ کښې

دلته موسم هم دبُلبل په زیست لوبې کوي
ولې نه واخله مې جانانه خو دوام غیرۀ کښې

www.pukhto.net

حسانه ورک شی ستادې فن خو زۀ زنځوره کړمه
لوئې او واړۀ ټول ژړوې دَخپل کلام غیږه کښې

★★

یو شعر:۔

تـــا خــوبـــه وئـیــل چې مینــه توقې دی حســانــه
خو نن دې په دې سترګو کښې دا اوښکی ولې وینمه

★★

★

څنګ زۀ ډیوی لـه پُو کے ورکړمه سحرلړې دے
چې غـرونه مات کړی پښتنو کښې هغه سرلړې دے

تـوره تیـارۀ دۀ نیـمه لار کښې ئې یو اځې پرېښوم
هـم ئې احساس ازغن ازغن دے هم ئې در لړې دے

چې شه زړګیه څنګ خزان کښې ګلاب راوړم تاله
سپـرلے هـم لـری اودَ سُـروګلونو کـر لـری دے

دلتـه پـه خپل خیال کښې مُلوکه دَ ښائست جوړوم
هــلتـــه زمـا نـــه دَجانان بـدن مـرمـر لـرې دے

دلتـه مـې هـم په میخانه کښې جام ونه موندلو
هـلتـه هـم خدائیګو رانه حوض د کوثر لرې دے

www.pukhto.net

هسې بې واره مه کړېږه دَ غيرت په نامه
توره سمبال که سر دې هم هغه سنګرلړې دے

هسې نه مړ شمه دلبره وارله ما نه کېږی
بلادې واخلم دَ حولګۍ ګورے اختر لړې دے

دَچاپه طمه چې حسانه ته غزل کړو تيار
وينه نچوړ که دَهرګه له ئې بشر لړې دے

★★

★

يمه پُښتون پُښتون مې خوښ پښتون ايمان لرم
غم مې پښتون ارمان پښتون پښتون جانان لرم

جانانه هر څه دی منم خوبے رُخی نه منم
ژوند مې پښتون ننګ مې پښتون پښتون جهان لرم

دا اسويلی به دې راغونډ کړې غم به نه جوړ وی
زړۀ کښې غيرت مې دے پښتون پښتون خفګان لرم

رقيبه لاس دې کړه واپس ګريوان راتهول مې کړه سم
په پښتو نحوا کښې پښتون ځوان پښتون حسان لرم

★★

www.pukhto.net

★

نور به دې کوڅې ته حسانؔ نه راځي
هسې مې دې خولۍ ته ورله څه راځي

چاچې کلي وال پسې خاندل به تل
کلي ته د ښاره وس هغه راځي

زۀ ګورمه رقیبه دَ چا ستر ګو ته
ستا دَ دې خبر وجواب ښه راځي

سرمې سر ګردانه شوپرې وځمه
څنګه په تیر عمر اوس هغه راځي

مونږه دَ کوکۍ خبره ونکړه
یار ته ډیری ګرانې څنګ به خوله راځي

ژوندون مې دَ دردونو بس نعرې شولې
لیکل غوارم خوږۀ خولې له تراخه راځي

★★

www.pukhto.net

★

جهنم کښې به خوشحال یم که مې دغه رنګ جنون وی
لوږه لوږه دې شی ورکه چې بس یاره ستالتهون وی

ستا دوزخ نه نهٔ یریږم ستا جنت نه مړاخواه یم
چې بس حوا کښې مې جانان وی رښّه دغه مې ژوندون وی

په دی سوچ کښې سحر ماښام شی میخانهٔ کښې په سر راړوم
چې کتل ئې مدهوشی ده ښکلول خوبه ئې خون وی

چې له کله جُدا شوے له هغې راته یادیږی
همیشه خوپاکه مینه کښې بیلتون یاره تړون وی

★★

څلور یز

تهٔ کړهٔ ځوان ووم خورښّ ډیر کړمه مجبور
چې مې څښلې یو پیاله ستادَ سُرور

خیر دے زهٔ دې پرې ځوانی خپله په داؤ کړم
چې را ښکته شی نظر د دې مغرور

★★

یو شعر:-

که غمونه ده دُنیا راباندی ډب شی
ځان به ځان ته کړم ویران ته به آباد کړم

★★

آزاد نظم

فاصله (FASILA)

څومره لرې ترينه راغلې
دومره لرى ترينه راغلې
چې يادونه فريادونه
څه زخمونه څه دردونه
څه د شپو مشغولتياګانې
څه کمبختى اداګانى
هر څه هر څه ترينه هير شو
چې خفه نه تهاکے زير شو
نور به ته ورته څه يادئې
نه ته قيس شوې نه فرهاد ئې
دا جواز هم حقيقت دے
نوم ده عشق ګله قربت دے

ته ئې هېر کړې حسان ګله
اوښکى پاکى کړه پاګله
هن؟
لمن واخله
اوښکې پاکې کړه پاګله

★★

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

★

دیار غم رابـاندې ولګوو ګوزن
دا لعنت خو محبت کښې ئې د زن

ستا ښیګړه دې په ماتوره بلاشی
مُدام خوری مې ستاغمونه میرات تن

دیار مینه په کلو کلو خرڅیږی
ماله راکړئ دَخپل سرپه بیعه من

یوورځ دې هم ګډنکړو پکښې یار
دادې څرنګه رباب دے ښنګه فن

حسان وائې هله پوهه په مَتا شم
چې ګلرنګ مې کله پریښے هم ازغن

★★

★

زر به راته وائی دادې چانه مخ پټ کړے دے
ماته خوچا ووې دائی ستانه مخ پټ کړے دے

ښنګه دا دُنیا ده هیڅ معنیٰ مفهوم ئې نشته دے
چا دَ خوشحالئ چادخفګانه مخ پټ کړے دے

ښار ته به درځمه ستا دیدن له وس یریږم نهٔ
هلته هر انسان دَبل انسانه مخ پټ کړے دے

بره چې درګورم غرور نکړم مجبوری مې ده
داخو مې له خپل ریخې ګریوانه مخ پټ کړے دے

www.pukhto.net

نه چې ورته ګورم دۀ زغملو زور مې نشته دے
ځکه مادَ خپل خوا ږۀ جانانه مخ پټ کړے دے

ځکه خو حسآن ئے کړو رسوا په ټولو خلقو کښې
ولې دلته هرسړې د خپله ځانه مخ پټ کړے دے

★★

یو شعر:۔

نن مې ورته سترګو کښې په سترګو سترګو اوئیل
دلته نشه غوارم میخانی ته به نور نه ځمه

★★

ځلوریزه

څوک دنظره دَ چاډیر پاتی شی
څوک له حَزلو پسې تیر پاتې شې

دلته ګردش دۀ وخت بے حِس کړل خلق
چې کله کله ترې ځان هیرپاتې شی

★★

یو شعر:۔

ترڅو به په داحال ژاړې حسآنه
ځان دا زلفو بندیوان کړه چې هوښیار شی

★★

www.pukhto.net

★

انسان چې په انسان باندې دا وژنې عجیبه ده
ارمان چې په جانان باندې دا وژنې عجیبه ده

احساس مې بیا غیرت دے لمسولے ربّه خیر کړې
خپل ځان چې مې په ځان باندې دا وژنی عجیبه ده

دَسوچ په فلسفو کښې یم ګیر شوے ګردګاره
مسلم چې مسلمان باندې دا وژنی عجیبه ده

ژړامې مقدر شوه هیڅ مې ونکړل په عشق کښې
حسرت مې په خفګان باندې دا وژنی عجیبه ده

همش خو مې خپل ځان دَ چا دۀ پښو خاورې ګڼلے
حسآن چې په جهان باندی دا وژنی عجیبه ده

★★

★

دوه ورځې ژوند مې د وصال رانه هجران غواړی
احساس زلمے شو اوس غیرت مې خپل ارمان غواړی

دَژوند حوا بۀ مې دَلتهون په طمع طمع تیر کړل
حسرت دَژوند نه مې فکرونه د جانان غواړی

ځنګ نیوی رنګ کښې شمه رنګ زما رنګین جانانه
زما ضمیر دے لا ژوندے رنګ د افغان غواړی

مونږ دَ جونګړی قدری ځائے پکښې ونه موندولو
ډیرو جهان په سراختے دے آسمان غواړې

زۀ چې هر څومره تعجب وکړمه دومره کم دے
چې تول دردونه خپل غزل لره حسآن غواړی

★★

Pukhto.Net پښتو

دۀ پښتو ګېله

زړۀ مې پړق وچاودو پُښتو راله پيغور راکړو
چې سپينه پښتو ووم خلقو تاسو راله تور راکړو
زۀ خو پُښتو دغزنوی اودَخوشحال پُښتو ووم
زۀ دپُښتون دَمعـرکو او دجـرګو پښتو ووم
زۀ خو پښتو ووم دَ پُښتون دزړۀ غندله وومه
زۀ دخيبر دَهر ځـلمې پـه خله غزلـه وومـه
پـه هر يو کور کښې رورولي وۀ هم په ماآباده
غـم خوبـه غـم وو خـوښادې وه هم په ما ښاده
زۀ خو پښتو ووم خو پښتو شوله لامانه هيره
دې مغـربـی ثـقـافتـونو کـړمه تانـه هيره
د درمان غيږ کښې يمه ناستی خودرمان ګورمه
پـه نصيب مينه دَ پښتون يم خوجانان ګورمه
دسـرې جنډی سُوری دلاندی لږ سکون راشی
چې زاړه وختونه مې په خيال کښې دپښتون راشی
هغه جګې شملې دپُښتنو درانو چې کمی شولې

ځکه په زړه مې دپښتو سکروټې بلې شولې
ځلمې مې تږل دَ غمازيانو ثقافت کښې پټ دی
لږ ئې بيدار کی پُښتنو په قيامت کښې پټ دی
داسې ورک شوی تماشو اوپه لوګو کښې ځلمې
دوئ مې خنديږی اے همدمه په سلګو کښې ځلمې
دوی لا آواز دَبا چاخان يادغنی پکار دے
ياخو آواز اے پُښتنو دَغزنوې پکار دے
کو داسې نه وی پښتنو نو پردی شوی به يم
کوورکه نشم به خدائی ليونی شوی به يم
ځوک مې لاځانه لرکې ځوک رانه مخ اړاوې
داظلم نه دے چې خپل يار لتا نه مخ اړاوې
زۀ خوله ښه يم چې لاوسه پورې پائمه
کلکه پُښتويم اے پښتونه زۀ خوستا يمه
نولږه مې غيږ کښې ونيسی درنو اودپښتوپښتنو
دلروبر اے غيرتيانو دَجرګو پُښتانو
داسې به چُپه خله خدائيکو رسوا کيږم نوره

www.pukhto.net

لا کلـه ژاړمـه او لا کلـه بـه ژړیږم نـوره
نـودا جفـا پـریږدی پښتنو لړه وفا راکښې
لا مـودوژاړم پښتنـو لـړه خنـدارا کښـې
یاخو غصه دبیلتانه په وصل یخه مې کې
یاسره جنډه کښې مې رانغاړی اوخخه مې کې
کـوداسې نـه وی نو یو کار و کې درنو پښتنو
زمـا ګیلو بانـدی لږ کینې په جرګو پښتنو
تاسو به ښکاری اے درنو په مادرنو پښتنو
دَافغانستان دَپیښور اے دَ شملو پښتنو
کو خپله مونکړه مه نو خبرئې لیونی حسانه
نـودرنه ځم به لاس به واخلم دپښتون ګریوانه
زمـا ځائے نه ورکیږی وئیلې وو باچا خان راته
ستاسو پښتـون اے پښتنو زمـا جانان راتـه
نـوبیرته به ځم دَ باچاخان دَقبر خاوری خکلوم
بس چیرته کښې ځم دباچا خان دقبرخاوری خکلوم

★★

★

مـا چې هیـره کـړه پـه مینـه داستـامینـه
نـو مې اومـونـده خـدائیـګو رښتیـا میـنـه

د جـفـا اوبے رُخـی نـه ئې پـه آرام شـوم
چې مې پریښوه پـه دُنیا دَدُنیـا میـنـه

دَدُنیـا میـنـه خـزلـه ورتـه ښکـاری
چې سینه کښې وی دَچادَ عقبیٰ مینه

تـابـه سپکـه نـه ګڼلـه مُلاجـانـه
څـومـره ښـه بـه وے کـه کـړې وه تـامینـه

نـه بـدحـال ئـې نـه دې رنګ زیـړدے زلمیـه
تـعـجـب نـه دے چې وے کـړې مـامیـنـه

د حسّانــه تپــوس وکــړئ میـنــه څـۀ وی

چـې پـه زړه کښـې ئـې پرتـه ده دچامینـه

★★

ځلوريزه

چـې پیـری بـه بیا پـه روستو شباب کیږی

دا خبــرې دمُــلا پـــه کتـــاب کیـږی

ښـه پـه لپـو لپـو ئـې وخښـه پـه ماګرانـه

دا ګنـاه بـه سُور دوزخ کښـې ثواب کیږی

★★

......(هائیکو)......

نن ئـې بیـا څـومـره پـه مکیـز کښـې ووې

حسانــه چرتـه وې چـې نـه ښکاریدې

پـرُون اوبـو لـه چـې ګـودرتـه تـلـمـه

هـره ګـهـړې مـې ستـا پـه ذکـر کـړې

شپــه ده کــه ورځ ده اے زمـا جـانـانـه

څـومـره ثـواب څـومـره ګـنـاه مې کـړې

★★

www.pukhto.net

★

یاره دا څنګ مُسلمانی به وي داستانه بغیر
داسجدې مې عادت نه دی خویو چانه بغیر

دَ سپینو خورو صفت مکړهٔ مولاجانانه بیابیا
داسې جنت دې په بلاشی داشنانه بغیر

چې پکښې هرخواه دَشرابو سرې ولې بهیږی
هلته مزه به نوره څه وي دګناه نه بغیر

چې منتونه او دهٔ یار دَ کوڅې خاوری نه وی
قدم به کیږنږدم جنت کښې یاره ستانه بغیر

جانان پیغور دَ مدهوشئ راکړے نن حسانه
ښه به ئې په لپو لپو څښم خودَ ګدانه بغیر

★★

★

که هر څووختونه تیرشی زوړ خیبریم
څنګ بدل شم زهٔ دَ هرپښتون نظریم

چې راځې زما عظمت ته سلامی شه
زهٔ دَ قبلې مخ دَ کعبې وردَ دین سنګریم

لږ غوندې مې غیږ کښې ونیسه خیبرپلاره
ستا اولاد یم خپل خیبره خوبے دریم

دا ربښتیا خومور ځانګو کښې راښودلی
چې اول ځوئے دخیبر بیادَ بشریم

پښتنو له اوپښتو له افتخاریم
ده غیرت اوحلوص دردَ مینی وریم

www.pukhto.net

کلک پُښتون یم په نیزومې پروا نشته
خوپه مړو کتو پریوتے زۀ اکثریم

کونتۍ چې مې په لاس اوپه خُله ساه شوه
نواوس مې دلبر راغے چې حسآ نه ستادلبریم

★★

څلوریزه

ماوئیل یو هجر به وی نوبیا به مړشم
خوغمونه ئې دَ شاتو په رنګ تارشی

چې په لیچو کښې خندا کړی تریخ جانان مې
اودۀ شوې احساسات مې تول بیدارشی

★★

www.pukhto.net

★

چې راواړئ مې په سريستر دَخاؤرو
نو نظر به شی بدل منظر دخاؤرو

مادلبر پسې دَاځان ايره کړو
اوس نسبت راته کوی اکثر دَخاورو

څومره زر اجله راغلې واخطاشوم
ماخونه وولا څنډلے سَر دَخاؤرو

ځان دَيار دَ پښو دَ خاورو برابر کړه
همشه خلقو موندلې زردَ خاؤرو

ګرځيدو پَرون حسّان په دغه خاؤره
په سينه ئې دے نن پُروت کمر دخاورو

★★

★

اے غُربته داسې سپک دې کړم جهان کښې
چې لکه الوزې حَزَلې په طوفان کښې

زۀ يم خپله ليتې پيتې غُورزيدلے
څنګ را پاڅومه همدمه ته باران کښې

دې احساس له به آرام مې څنګه راشی
زۀ چې تا يمه تړلے په خپل ځان کښې

زۀ هر رګ کښې ستا دَ وينی مشغولا يم
څله ګورې مې مکان اوپه زمان کښې

دا چې تول په تول لُوګے دَخپل جانان شی
ربّه دومره ځائے پيدا کړی په حسّان کښې

★★

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

★

یوکتوئې زندګی مې بندګی کړه
چې له ورایائې خندابه اننګی کړه

څه دیار غمونه خوری مې ابۍ مړشوم
بل غربت مې لنډه تنګه زندګی کړه

کرامت به ستا ضرور وی چې نن دایم
ستا یادونو راته غم هم خوشحالی کړه

★★

★

ښه لګی جانانه واړه ښۀ لګی
ستا کابۀ کاتۀ رساپه زړۀ لګی

څنګه اوښکې ودرومه ناصحه زۀ
هر ګهړئ دَیار د غم رانجۀ لګی

ستا نه پس یادونه دې نخرې کوی
هرڅوک ته تراخۀ دې خو خوابۀ لګی

ما چوه تندے بس دادے لاړمه
ګلې ماڅخه دې ولې نه لګی

وئیل یې حسانهٔ څنګه هیرشومه
ماته یار سحر ماښام هغه لګی

★★

www.pukhto.net

★

ځنګ چې ارمان کړلې جانان پسې وړې سلګۍ
داسې مې ځان کړلې په ځان پسې وړې سلګۍ

سترګې به وچې کړمه اوښکې به په زوره ودروم
خو ځنګ به غلې شې ګریوان پسې وړې سلګۍ

ته خو ئې تن کښې زما ساه ځنګه به هیر شی له ما
ماحومُدام کړې خفګان پسې وړې سلګۍ

مونږۀ دَجام د تصوره ځکه نه یو اوتې
زمونږ ارمان کړې په ارمان پسې وړې سلګۍ

مونږ له دَخلقو پیغورونو زندګی کړه تنګه
ډیرپسې ژاړې کړی جهان پسې وړې سلګۍ

ځوک دَ ژړا اودَخفګان ورته کفن کښې نشته
خوخپلې غزلې کړی حسانؔ پسې وړې سلګۍ

★★

www.pukhto.net

★

ورانــه شـولــه بيــا دَمـحبـت قـېصــه
خـولـۍ لـه چې د راغـلـه دَ رخصت قېصه

زهٔ بــه ئــی کــو څــی پـلــه نـورنــه څـم
هســی مــې عـادت دا داعــادت قـېصــه

ښار کښې چی بے ځانـه شوم پے دره شوم
نـو هـلـه راپــه زړه شوه دمهلت قـېصــه

زلـفــی دی ښــامــاری دی مــنم ئــې خو
مــونــږ هــم زده کــړی دَ وخشــت قـېصــه

حســآن ئــې دهٔ تهـمــت بــه دار تــړلے دے
څـکــه پــه جـار کـې نـه دَالـفت قـېصــه

★★

★

څـکــه غـلـے يـم بے وسـی راتــه نـن اوئيـل
نــوردې وژنــم کــودې اوتــولــږ سُپــوږ

نــه حــلاصيـرږم تـعـجـب يم ورتــه وړے
چــې تــړلـے يم پــه زلـفـوکــه پــه بوږ

هغـه بـه څـه پـه رچيدو دګـل خفـه شی
چې ئی کړے ګلاب نـه ئی پـه عمرسُوږ

چې دپاکی مينـی خـوند ورتـه دُوزخ کړې
دامــولاپــه ستــرګــو ړونـد پــه غـو ږو کـوږ

دحسانؔ وانـړه پے وسی پکښې ښکاره شوې
ديــارمــخ ئــې ائيـنـی نــه دے هــم روږ

★★

www.pukhto.net

★

ګرانه دادې څه وکړل په ما باندې
څوک خودومره ظلم نکړی چا باندې

نور د بې وسۍ امتحان مه اخله
هسې خندوې خلق په ما باندې

زۀ په غم کښې ډوب یم یاره سوچ وکړه
څنګه تاته وخاندم خندا باندې

★★

هر څوکه ژړیږی له مودوژاړی
خوحسانه ستا وړی سلګی ته نه رسی

★★

آزاد نظم

غفلت (GhAFLAT)

د دې وخت مظلومې مورله
یو موسٰا غیرۀ کښې ورکړه
دادَحق نعٰره بلنده
دچاړا دَخولې زینت کړه
ړندې سترګې هم بینا کړه

www.pukhto.net

کونړله هم سماعت ورکړه

د هاتهي غوږ کښې اودۀ دے

لږ هغه هم رابیدار کړه

شل اوګوډ په خپو روان کړه

ربّه دازما وطن ودان کړه

هغه توره دَ خالدؓ را

چې داقوم پرې توره ورشي

ورکه ورکه ورله ورکه

یو موسیٰ غوندې کښې ورکه

بیا به زۀ هم ورته ګورم

نوبیا به ئې زۀ هم تماشا کړم

هنه!

نوبیا به آورم

بیابه وائم

بیا به لیکم بیا به ستا ئم

چې ثنګ فرغون غوندې خوبونه

زمونږ سترګو کښې ځائیږی

هن!

ثنګ فرغون غوندې خوبونه

زمونږ سترګو کښې ځائیږی

★★

(ثلوریزه)

نن ریښې ریښې ګریوان ته چې مې پام شو

راغونډو مې پے وسئ کښې چې ماښام شو

ساقی نن تشی پیالئ به دې ماتومه

هجر ویشتے یم په زړه خود مې تمام شو

★★

www.pukhto.net

★

بــنــدګــی مې ستــادا خــوښــه دَبــل چــانــه
هسې نــه پــه مــړو کتومې څوک بنده کړي

بــنــدګــی خــوتــر مسجد اوکــعبــې ښــه ده
څنګ بـنـده دے چې دابـل تــه سجده کړي

داسې يارديې خدائې ورک له توروغرو کړي
ستـا نـه غيـر چې ستـالـمـن تاله ګنده کړي

پــه ډيـر څـه خـوچا رقيـب تـه غـږ ونـکړو
خـوپـه غـلا يـار تـه کـتـل زمـا جنـډه کـړي

حســان وائــې بيــا بــه ژاړې زه بــه مـړيـم
پـه ژړا پـه څوک مـرده څـنـګـه زنده کـړي

★★

★

ده خپـل ذات پــه سُوری دومـره مې باور کړو
ورپسې چې روروتلم ځان شو له ځان ورک

دې يـو سـوال مې زنـدګـی کـړه بے آرامـه
زۀ تـرې ورک شـوم کو زمانه شو جانان ورک

دلتهـون لاره يـوه د خـو مـقـصـد بيـل
دَ چـا ورکـه د خانـی زمـونږ ګـريـوان ورک

پـه ازغـنـه لارۍ داسې ځـانـلـه پريښـوم
يـويـو دُرومې شو لـه مانـه تول ياران ورک

څـه اوتــر اوتـر دَيـار کـو څوکښې ګـورم
چې کـم عـقـلـه غوندې چرته شوارمان ورک

www.pukhto.net

دابه عرش ته نیغه رسی یا هندویم
چې لاس پُورته کړم زما نه شی آسمان ورک

تا چې کلے دَ چاسَر باندې وو پریښے
کلے څه کوې حساؔن شوله جهان ؤرک

★★

★

داجامونه دې نسکورکړه بس سحرشو
غم دې دومره وارخطا کړو چې اوترشو

بیا به ستا دَنزدیکت سوالونه نکړی
که ماشوم احساس زلمے شواو خبر شو

دامُلا اوس د ممبر لائق خُونه دے
داد پاکې مینې باب باندې مُنکر شو

چې مې کډه له دې کلې وړۀ څوک نه وو
جنازې پسې تول کلے رابهر شو

اے حساؔن نه هندو نه ئې مسلمان ئې
دومره مِۀ اوباڅه توبې بس دے سحر شو

★★

Pukhto.Net پښتو

ثلوریزه

د ښار ژوندون کښې خوښ د کلې ژوند ورته ډیر ګران دے
بیا هم په کلی وال حسآن میئن ښکلے جانان دے

بنګړې چې ئې غوغښتل نو په شرنګا ئې دَ پانزیب وئیل
کجل دې هم رانه وړل دَ بنګړو مې ډیر ارمان دے

★★

★

مانه وکړه چې په کومه ورځ یار ځنډه
له هغې ورځې مې غم ونیو په تنډه

نن ده یار غمونو وګټه مابېله
بخار وکړلو پرهر ساه مې شوه لنډه

بے وسی خنګه ګزار کړم پوهه نه شوم
چې شمله مې دَ بابا شوه رانه کنډه

سور التار دے څه دۀ خیتې جهنم مې
څومره ګرانه دا خدائیګو داسې منډه

چې مې یو نظر لیدلے بیا ورک شوے
نو څنګه ماته کړم حسآن دَوصل تنده

★★

www.pukhto.net

★

دبے تابئ دا اسویلې مې په یودم کښې وځی
چې زندګی مې همیشه دَچاپه غم کښې وځی

راته ئې وئیل چې قسم اوخوره میخانې ته مه ځه
نودَ مابنامه تهوله شپه په ماقسم کښې وځی

تشې بوتلې تهنګوی ساقی مستی یادوی
دغه سرور خوتش زما دَسترګونم کښې وځی

دازۀ به ځنګ دَتکبُر یاره خبرې وکړم
زما خو هریوساه ستاپه قدم کښې وځی

داستاوصال خوپه مثال سم په هندو سلام دے
کالونه پس وې اوهغه هم په ځم ځم کښې وځی

وئیلې حسان ووچې دَدرد فریاد به نکړم چاته
دَزړۀ غمونه بس زمانه به قلم کښې وځی

★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

(ثلوریزه)

چې خودي له خوده وځي نو مستي شي
چې ځواني له زوره وځي بې وسي شي

دومره لرې ته دۀ ځان په ذات کښې لاړې
په خدائې که درته یاده دې ماضي شي

★★

(ثلوریزې)

لږ دۀ اوښکو دباران خبرې ښې دي
څه دۀ زلفو دجانان خبرې ښې دي

دَ وحشت په تورځنګل اوتوره شپه کښې
کله کله دَانسان خبرې ښې دي

★★

Pukhto.Net
www.pukhto.net

★

وخت زورور دے لړ به زور غواړی
هم خاموشی او هم به شور غواړی
وس به لاړشم ستا دَ مخه دَ وطنه
خوزړګے مې ستا کوشه کلے کور غواړی

★★

زړهٔ مې پښتون ننګ مې پښتون جانان پښتون دے
عشق پښتون زړهٔ کښې ساتم ارمان پښتون دے
طرزونه تول دې پښتانه کړه اے پښتون جانانه
په دې خاؤره خيال ساته جهان پښتون دے

★★

★

چې اوښکې راپريوځی نوپه مخ باندې شبنم شه
دايو قميص لرمه يه ارمانه ګورے سم شه

دَ لرې اشارې به کړې فساد جانانه جوړ
دَيوبل ګاونډيان به شورائحه زمونږ په چم شه

★★

★

خوب خندا مې شوله ورکه ستاله غمه
لکه ساه چې رانه وتی یاره سمه

تعجب دے چې دَیار مخکښې خندیږم شم
ګنې سترګې مې پړیوځی لا دَ نمه

★★

★

څومره چې په زړهٔ کښې مې ګیلې وې آخراوښکې شوې
بے دیار چې تیرې کومې شپې وې آخر اوښکې شوې

دلته هر بنده دَخپل ارمان جنازې ښخې کړې
هرزړهٔ کښې راپورته وسوسې وې آخر اوښکې شوې

دغه یومنګے، ووس اوبیاکښې آخرمات شولو
هرڅوکه وړې سلګۍ اوږدې وې آخراوښکی شوی

نه زما دَسترګو چې ولید فرهاد چغې کړې
وئی راشئ کنه دهٔ څه هم وعدې وې آخراوښکې شوې

ډیر صبر مې وکړو خو حسآ نه ورته تېنګ نه شوم
څومره هم زما چې حوصلې وی آخر اوښکی شو

★★

www.pukhto.net

★

د غمونو په باران کښې دَفراق په طوفانونو
خپل ګریوان ته هم ساز نشم لیونے کړم ستایادونو

دا ګریوان چې مې شلیدلے ترلمنې درته ښکاری
بے وسی دَمحبت دا ترجمان دے دَ غمونو

ما دَ ژوند په هر اړخ کښې امیدونه ئې پیللې
کله ښارچې څوک ښائسته کړې دګلاب په سُروګلونو

زۀ به ډیرپرې نازیدمه یار زما دَ زړګی سَروو
خونن ئې اوښکې توئیولې دَبل چاپه رواجونو

مخکښې زۀ به چې مدهوش ووم ستاپه یادوو
وس چې ځان نشه کوومه په یوجام نه په جامونو

داچې ناساپه لیوال شم خپل ګریوان ته هم سازنشم
زۀ عادت ووم په سپرلی کښې لیونے کړم خزانونو

داګریوان خوبه راټول نن په هُنر کړمه حسا نه
څو څه وکړمه څه وکړم دَدې زړۀ پرهرونو

★★

www.pukhto.net

★

آزاد نظم

مزدور ابن مزدور

زۀ دلته هم مزدوريم
زۀ به هلته هم مزدوريم
ستا دۀ خان په لاسو خرځ يم
ګوره ځو مره زه مجبوريم
ستاوعدې اورېدى اورېدى دى
زما ساه دا لنډه لنډه
ډيره ګرانه به شې خدايه
بے پاپو تاپله منډه
ستانه زار ستانه قربان شم
ستا وعدو کښې هيڅ شک نشته

ستاالفت مالره بس دے
خود خيټې پکښې څه شته
دا آواز زما په خوږوکښې
ګړنګېګې لکه کړيکه
دا ډوډۍ ډوډۍ چې آورم
دۀ زړګې مې وځى سرېکه
زۀ هم زړۀ لرم خدايه
څه آرزو پکښې ضرور شته
چې راکو ودې عبس نه دے
چرته ښاده د مزدور شته
د زړۀ تل کښې چې پرتې دى
يوه ورځ به بغاوت شى
دظالم ګريوان به وشلئ
زما لوږه به حرکت شى
اے خاونده کردِګاره
اے واکمنه غريب ياره
دَ دُوستئ نه دې قربان شم

www.pukhto.net

تیروؤم هرورځ نهاره
یوغتې کانړے مې په زړۀ دے
یم په طمه ستادَ حورو
هسې نه خان دجنت نه
راته وائی شابه بهرو
زۀ دلته تابعداریم
زۀ به هلته ئې خدمت کړم
په سوونو کاله مخکښې
ځم جنته جوړبه ئې تخت کړم
ولی؟
زۀ مزدور
ځوې د مزدور
ځوې د مزدور
ځوې د مزدوریم
تسلسل ماتوئے نشم
ګرانه خدایه زه مجبوریم

★★

★

دغه مې د خُلې نه خووتلې ګډې وډې دی
ځکه مې په مخ اوښکې بهیدلې ګډې وډې دی

هسې خاطر نه درنووم نازاوادا پیژنم
تا په خپله خوله راته وئیلې ګډې وډې دی

هسې کۀ بوډا یم خوپښتو کښې ښه ځوانی لرم
ځکه په پښتو کښې مې تللې ګډې وډې دی

لړه خو مې پریږده غرڅنیه لیونیه
زلفې دې زما ټولې نیولې ګډې وډې دی

چې حال مې داسې نه وې نور به څه وی
یارچې مې په سترګو کښې ساتلې ګډی وډې دی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

مړیه شم په دومره بی وسۍ کښې خواله مه راځه
ټوټې چې لوټې ته دې ګنډلی ګډې وډې دی

نن ساقی غصه دے میخانه ئے څکه بنده کړه
دلته هر سړی پیالۍ شپندلې ګډې وډې دی

څوک چې په شعر نه رسی جاهله داسې کاندی
چې دائې له خدائیګو څه لیکلی ګډې وډې دی

کاراوس دَ جرګو نه دے دَکلی خان ته ووایه
دا دلیونی حسانؔ اوس خپلې ګډې وډې دی
★★

★

څومره ژړا ده څومره اوښکې دی ازل کښې زما
مقصد هم ورک لاره هم ورکه ده مزل کښې زما

نورې ګیلې به زۀ دچانه اوبیا ولې کووم
بس چې نامه لیکې شوې ده اجل کښې زما

چې صفتونه ئې دَکلی هریو ښکلے کوی
دغه خوا بۀ د یار ده سترګودې کجل کښې زما

وائیم حسانؔ ګوته په خوګله به ورته پاتې شې تۀ
دومره درد ونه ګورے شته یاره غزل کښې زما
★★

www.pukhto.net

......(هائیکو)......

دَکلی وڅه خودَ نرخه مه څه
دامشران زماخبره کوی
څکه دَیاد ګیدے په سرګرڅوؤم

★★

ستادَ غمونو بارانو نه مُدام
په ماوریږی پکښې ژوند تیرووم
دې احسانونو خوغلام کړمه ستا

★★

★

چې د زړۀ خونه ورانئ ساده حسانه
اور دې پورې شی په داقسمه کتو

چې حالاتو زلمے کړے ئې څوان هغه دے
چې ژوندون ئې هر لحظه ئې دَ اسوېلو

زۀ ئې دَ ذات دخکلولو مُبرا یم
یار تهمت هسې لګئ په لیونو

چاپیری اومُریدی ده ورته پریښې
دا تاثیر زمادَ یار دے په لیدو

په دې شکر دَ چاغم چې مې په سر دے
هر یو یاد ئې دے سکون دَ شوګیرو

★★

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

★

زمـا د ژونـد زمـا د هـریـو ګـل ارمان قـاتـل
زمـا د ټـولـو احسـاسـاتـو دے جـانـان قـاتـل

سترګـی بـه بـندې کړمه پټ به ستاپه کلی تیرشم
خـودا بـه وائـم چـې نـن څـه شـو دګـریوان قاتـل

دومره مې یادکړو چې بے خوده شوم راپریوتمه
ګـوره عـالـمـه نن مې ځان کړو دخفګان قاتل

بے وس پښتـون یـم دامـنـمـه خـو بزدله نه یم
تپـوس بـه کړم که قاتل یو دے که جهان قاتل

ټول احساسات مې لړزیدلی داپوښتنه کوې
ټهیک ده زمونږه قاتل حسان خود حسان قاتل؟

★★

★

غربت چې دیکې راکړلې نوخودمې سرله راغے
ارمـان اپـلـه بیـنـا شـو چې لږ زور نظرنـه راغے

هـلـه بـه ئې ښار تـه زۀ ورځـمـه دامې ضد دے
جـانـان کـه مې دې خړ کلی او خړ خیبر له راغے

وینـه مې ورکـړی غـوښـې یادکښې دوړیدلی
یـاالـلهٔـی خـیـر کـړې چې بیا څله درلـه راغے

بس ئـې کـړه نور پرېږده دا یاد ونه شوګیری ئې
چې دا تصور څنګه مې پښتون ځېګر له راغے

هـلـه بـه مجنون شم چې دَ هجر تیارې تت شی
خـفـګـان چې مې بیاکله دۀ ارمان سحرله راغے

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

داسَر مې پرې کيدے شي تيتېدے نشي انسان ته
دا څنګه بندګي ده چې نسبت بشرله راغے

حسّان څۀ بزرګ نه يم خو فکرونو کړم خاموشه
چې هجر مې بيا څنګ د تماشې ځيګرله راغے

★★

★

ستا کرم په ما ډيرغټ دليونتوب دے
د سرور اوخودئ ډک چې زلميتوب دے

سور دوزخ مې مسکن نه دے زما ربّه
ګناه کوم خوليونتوب څه ميئنتوب دے

بس دے راشه لړمې خواله ليونيه
درپسې مې دې ګوګل کړے پړسوب دے

اے ګرانه کرډګاره يو دوه ورځې زندګی را
کوم ژوند چې مې تير کړے لکه ماليدلے خوب دے

چې دوه مئينان خپلو کښې حسّا نه روغوی ثوک
هم دغه يوسړی کښې بس خدائيګو سړی توب دے

★★

www.pukhto.net

★

چې دَ مرهم په ځائے لګئ په پرهرچک
ربّ دې ورک کړې له جهانه داسې سپک

داچې ماپه میووینی اوګډا کوم
نن راغلے دے له ډیرو مودو ورک

داد یار له غمه واړه بے خودی دی
داچې ځم داسې مدهوشه خورم تپندک

دَپښتون کورکښې نن بِله ماجره ده
پلار پسې چې ځوی راختے دے کوتک

مونږه ځانله دَخپل ذات په ګناه ژاړو
تۀ وے ووهه دَخلجی بچیه ځک

★★

★

چادَوصال چادَ هجرانه توبه اویستله
مونږه خونن نه دَ جانانه توبه اویستله

هغۀ خو ځانله بندګئ کښې سجدی غوښتلې
دَ داسې خانه مې نن خانه توبه اویستله

مجنون به څۀ وو قیس به څۀ ووداپُښتنه کووم
په محبت کښې مې له ځانه توبه اویستله

خورمه قسم چې یار کوځې ته به دې نۀ درځمه
څومره په ګرانه مې آسانه توبه اویستله

چې لړزیدلی درزیدلی احساسونه نه وی
له داسې مینی مې حسانه توبه اویسته

★★

www.pukhto.net

★

محبت کښې محبت باندې تاوان شوم
نه جانان مې کړلو خپل اونه ده ځان شوم

ځان مې ورک کړلوله خپل ځان اوترشوم
څه په ورکولارو لاړم بې کاروان شوم

دۀ ځوانۍ زور وود زوره خبر نه ووم
نودا نا شومه چې خلاص زۀ د ګریوان شوم

چې سپیځلې محبت مې زړۀ ته راغې
هله پوهه په خوبوزۀ دایمان شوم

★★

★

مینه کوم خود کولو زورمې نشته
دومره کوم چې د تللو زورمې نشته

بغاوت په خپل وجود کښې مې شروع دے
نور د چادَغم زغملو زور مې نشته

دیارغم داسې لیوال کړمه بے دمه
خندا څه کړې دَژړلو زور مې نشته

پیغورونه مې قبول دي په سرسترګو
ډګریوان هم دګنډلو زور مې نشته

دَحسان دَمرګ استاذی ته یې ووې
بیا به ګورو دَلیدلو زورمې نشته

★★

www.pukhto.net

★

لیونے مست شوستا دَ زُلفو تور ماښام غواړې
خوبونه لړدې په مړوندا وډیردې پام غواړې

ساقی چې ستا پے خودی ولیده توبی ئې ویستې
چې هر یو لفظ باندې جانان اومیو جام غواړې

دادَ بېلتون تیارې دې تت که لږ وصال راکړه
لا به ترڅو مو محبت داسې ناکام غواړې

نوردقسمت دَناکړدو به درته څۀ وائیمه
هر یو ارمان مې دَارمانه انتقام غواړې

مونږه شډل بډل دَکلی دَمیرو خلق یو
زمونږ نه پاتې دی که ښکلی احترام غواړې

★★

★

کډې په سردې چرته لاړلو حسان دَکلی
کانړی راولۍ روغ ئې یوړلو ګریوان دَکلی

څنګ شمه غلے هغه ورځ له مانه نۀ هیریږی
څه په دیکو چې راوښکلے وومه خان دَکلی

دَبابا کلی یې بهر کړمه په پاکه مینه
نفرت مې وشوله هغې دهرانسان دَکلی

زمانه پس تهول پیغورونه به یار زغمی
دخود غرضه ښاره ښه وی لږ یاران دَکلی

خپلې وړې سلګۍ کړم هېرې ښار کښې وخاندم ستا
ناصحه خوار شې یم راغلے په خفګان دَکلی

★★

www.pukhto.net

اوس هغه مینه او خلوص وفا ئې پاتې نۀ شوه
ځکه څادر مې خپل څنډم ځم دَجانان دَکلی

دَیار په کلی چې د کلی مقبری ته مې وړی
په مرګ هم ګران دے مُلاجانه داګزران دَکلی

دۀ ځنکدن وخت کښې ئې دومره اِشارو کښې اوئیل
حساںؔ لاړم له جهانه په ارمان دَکلی

★★

★

زه په خزان کښې دَ بهار تپې کولے نشم
څنګه په دار چې زۀ دیار تپې کولے نشم

دالاس مروړل به مقدر کښې وو یارانو زما
بس په هجران کښې د اظهار تپې کولے نشم

څه د احساس ترجُمانی ژبې غلطه وکړه
بل سُور لاتاړ کښې ده انګار تپې کولے نشم

دلته بُلبل خُو دَچغار اود مستئ نه وتے
په دې ماتم کښې ده ګلزار تپې کولے نشم

د چا یادونه راسره دی بس په دې خبره
ځکه مې ځان ته د آزار تپې کولے نشم

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

چې دَ ژړګې مې درزېدل اوښکې بهېدل مې نه وې
په تش مزار زه دَ مزار تپې کولے نشم

بې وسو داسې خاموش کړے يم حسّانه ياره
زړهٔ کښې ساتم خودَ ګفتار تپې کولے نشم

★★

★

سترګو کښې نن يار مې څه ساتلې دي
داسې چې کاتهٔ يې غلې غلې دي

ياره ستا احترام اوس هم ليونے کوم
ډېر څه مې پټ کړي لږ ويلې دي

بيا مې هم اوباسې د دې کلې نه
ډېر سپين ګېرې يار له مې ورغلي دي

ستا مينې خو ډېر زه مخ تورن کړمه
لاړې دَارمان دَحولې اوس تلې دي

www.pukhto.net

زه د خپلِ وطن بچی بچی ژاړم
څکه خو مې دارنګه ژړلی دی

په اوښکو ئې لیکلی په دردونوراوتلې دې
څکه دحسان یاره خوا بږې خوا بږې غزلی دې

★★

★

دۀ منصور غوندې به ورکه زۀ یوسوال کوم
څه رنګین غوندې یارانو زۀ کمال کوم

تا چې خوند دیار د نرمې غیږاغستے
خود به وائې چې وس زر زر ئې وصال کوم

دے په کال کښې صرف یوورځ دُرومی حج له
زۀ خو کالوسر طواف ده یو هلال کوم

ته هر وخت په تغیُّر کښې یاره ورک ئې
زۀ ګنډل د خپل ګریوان په هریو حال کوم

ته بنده دۀ کانړو بوتوئې کافره
بندګۍ دبنده نۀ دَ ذوالجلال کوم

که مې سَر د نفرت کلی کښې خپر لاړشی
زۀ حسان دَ محبت تخم به نال کوم

★★

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net